اوځنوکسانو بیا داسی ویل چی هغه ددښمن سره دجګړی دتیاری نیولو لپاره وړاندی غرونوته تللی هلته دجګړه ماروقبیلو لښکر راغونډوی اوپردښمن یرغل راوړی .

خو بله ورځ دا ډندوری وغږول شوی چی ابوعبدالله نا څاپی ددښمن دسولی ټول شرطونه منلی دی .

له دی دردوونکی پیښی نه دری ورځی وروسته سعید کلی ته را ورسید اوښیغ دهاشم کورته روان شو هغه چی کله له هاشم سره مخامخ شو څو لحظی یی سترګی سره وجنګولی د سعید په سترګوکی اوښکی وځلیدی اوهاشم په بی وسی خپل سر وخوځاوه ،تر ډیره وخته دوی ټول چوپ ناست وو بالاخره سلمی په لویدلی ژړغونی غږ پوښتنه وکړه .

سعیده ! اوس به څه کیږی .

سعید : ترورجانی زه فکرکوم چی دقوم دآزادی روحیی بندی کړ اوس به مونږ دخپل راتلونکی په باب دهری پوښتنی ځواب ددښمن په تندی کی ګورو .

سلمی وویل : ستا په دی باوردی چی موسی بن ابی غسان شهید شوی دی ؟

: هو ! دښمن دهغه آس ښارته راولیږه اوله دی سره سم دغرناطی پرښار ویری اوهیبت خپل شوم وزرونه وغوړول ، اوس دابوعبدالله په درباركی دسوله غوښتونکو پله درنه ده اوهغه کسان ټول دابوالقاسم ترهدایت لاندی دی ،چی بالاخره ابوعبدالله هم دغی ننګینی سولی ته اړ شو .

هاشم وویل : سعیده اوس وضعه ډیره خرابه ښکاری ، ددښمن لاس برشو اواوس له ماسره دخپلوشا وخوا کلیو اندیښنه ده ، دښمن غواړی په کومه پلمه یرغل راوړی نو ته باید له ډیرپام اوهوښیاری نه کار واخلی ، ته دحامد بن زهره زوی یی اودښمن خامخا ستا دکړوو وړو څارنه کوی ،ته بایدله ماسره وعده وکړی چی ترڅو چی ددښمن پرخلاف سرتاسری پاڅون ونشی ترهغو به دځانګړی کوم اقدام نه ډډه کوی .

زه اوس ستا دپلار په انتظار یم چی یوه ورځ دی مرږواندی قام نه دبیا ژوندانه زیری راوړی ، زه یوځل بیا غرناطی ته ځم اودوضعی نه پوره ځان خبروم .

څلورمه ورځ هاشم غرناطی ته ولاړ هلته هغه ته معلومه شوه چی دغرناطی زیاتره خلک له " فردیناند " سره په سوله نه دی راضی اودښار په یوه اوبل کوټ کی خلک دابوعبدالله ته احوال ورکړی چی له ترون سره سم دپوځ اودنفوذ خاوندانو دکورنیو څلورسوه کسان زرترزره هغه ته وسپاری ترڅو پر ترون له وفا نه ډاډه شی .

او ابوعبدالله ته هغو کسانو چی دجګړی پلوی نو دی دا مشوره ورکړی ده چی دهغو کسانو له کورنیو څخه یرغمل ونیاکی چی دجګړی پیلولو اراده لری په دی ډول به دخپلو یرغملو په خاطرله جګړی نه لاس واخلی .

سعیدبله ورځ غرناطی نه دهاشم داحوال لپاره روان شو خودوی ورځی وروسته هاشم بیرته کورته راغی ،دهغی له خبرو معلومه شوه چی ددووزامنو امین اوعبیدنوم نه یی هم

رغملو کسانو په لست کی لیکل شویدی .

عاتکی تری وپوښتل : سعیدستا داحوال لپاره غرناطی درغلی لتا سره یی ولیدل .

هاشم : هو ، ومی لید ما هغه بیرته له ځانه سره وست خو دهغه یو څو ضروری کارونه وو ، ځکه لما سره رانه غی ما باوردی چی هغه به کومه خطرناکه لاره نه غوره کوی او زر زره به بیرته راستون شی ....

او اوس دعاتکی سترګی دژوری کندی نه پاس په هغه کور بنی وی چی دوخت دتیارو له توفانونو سره سره یی اوس هم امیدتته ډیوه ګیر په کی بله ترسترګوکیده هغی په ډیره اکراری دسعیددراتلو انتظار کاوه ...

هغی دکاکا میرمنی له زینونه ورغږ کړ :

عاتکی - عاتکی لوری ! ته تراوسه دلته ولاړه یی ؟ بیره یخنی ده لوری ! هغی په اوچت غوندی آواز ځواب رکړ : درځم ترورجانی !

(نوربیا)



دحق لمر

پەنړۍ کې خوردنن پەخپر وحشت وٌ
خونریزي وه ،ځانځانی وه ، جهالت وٌ
عقیدې فاسدې شوې زړونه تور وو
داللەپەځای دکانوعبـــادت وٌ
انس الفت لەانسانانوځنـــې هیر وٌ
پەخطردورکیدوکې بشـــریـــت وٌ
دانسان وژل روا ، خوړل روا و و
بس وژل ، تړل ، لوټل ووبربریت وٌ
نولښیزدودا ودستورتربهووٌ لانـــدې
سرکشي وه ،سرزوري وه ،بغـــاوت و
سولې، رحم اووفاوه کـــډه کـــړې
کډوډې وه ، ظلم زوروٌ خیانـــت وٌ

دژوندون کښتۍ دجهـــل سمندر کـــې
دوبیدونکې ښکاریدلـــەپەنظرکـــې

پەنړۍ کې څوک حاکم وٌ څوک محکوم وو
څوک بەنازاوپەنعمت کې څوک محروم وو
څوک پەعیش اوهوسونوکې ستومانـــه
اودچا بیا نصیبونەهومرەشـــوم وو
نړۍ ټن غونډې پەدووقطبونوویش وه
څوک دفارس خدمتگاران ووڅوک دروم وو
څوک هوس کې ووډوب شوي ترک لـــرې
څوک دردونواورنځونوکې معصـــوم وو
څوک دعیش اودعشرت پەمیکـــدو کـــې
څوک دغم پەسیاچالونوکې معدوم وو
پەعالم وه غوربدلې دماتم شپـــه
بوغم نەوٌ شماربې نشي چې کوم کوم وو

ناڅاپي بوه رڼا وځلیـــــدلـــه
سراسرتوله دنیـــاوځوځیـــدلـــه

دبشرخزان وهلـــې گلستان کـــې
دژوندون غوټۍ نیسم تەپەموسکاشوه
بوەنوی وړمەراغله لەحجـــاز ه
لەهوسەدنیاکې پەنڅیدا شـــو ه
چې پرون ژوندې پەخاورخښیـــدلـــه
نن دژوندزېرۍ وشوپەخنداشوه
دحق لمرچې سراپورته کړنړۍ تـــه

" نعیمی

دنیا روا وجهالت بوډی رسوا شـــوه
امن راغی، سوله راغله ،عدل راغـــی
ویره ترهه پەسلگونوه پوپناشـــوه
دقیصرتخت اوبخت دواړه رانسکورشول
زلزله پەهدو گډەیکسراشـــــــوه

ملایکو زېرې وکړل پەآسمـــان کـــې
دنیا نوسالارپل کیښودجهـــان کـــې

دمکې پەغرورغوکې انگازې شـــوې
دآخری زمانی پیغمبر راغـــــی:
څوربدلی غلامان پەخنداســـرشـــول
دنړۍ دمظلومانورهبـــــر راغـــی
دستمتیارې بې ووښتی پەوړانگو
پرنړۍ دانسانی ژوندون لمر راغی
داسلام جنډی اوچته شوەجهان کـــې
دشیطان دلښکرکورتەخطرراغـــی

کاینات توبەوبل دحال پـــەژبـــه
شکرشکرخدایە إخیرالبشرراغی
محمدآخرزمان راغی دنیاتـــــه
آسمان ځمکې تەچندل ځمکې سماتـــه

پـــەطـــەاوپەنس باندې سرلوړ ی
دمعراج پەشپه ختلی وٌ آسمانته
پەرښتیاچې خدای (ج)رحمت دی رالیږلی
بوکامل قانون بې راوړدی جهان تـــه
دظالم اوبرغلگرپەمقابل کـــــــې
دقیام لارەیې وښودەانسان تـــــه
وی بې " سربې پرې کوئ چې پرې بې نږدئ!
چې بې بدکتل الله ،رسول ، قرآن تـــه
لەآدمه تردې دمه مودبـــــــن دی
چې غوږکینږدی غوښتنودشیطان تـــه
کەزمایەپله موکینښودل پلونـــــــه
ځای موااوردې لوی خطرمودې ایمـــان تـــه"
نن چې زموږپرسردغم لەپاسەغـــم دی
درسول (ص)لەقەمو ،موکوږقـــدم دی

" استاد بیرنگ "

اســـرار احـــد

اسم پاکت تا میان نام حق شد آشکار
عالم امکان بەنورت دیدخودرا برمدار

دیدەبودا عیان ثابت نورتودردورخویش
اندران روزی کەما ومن نبودآنجا شعار

اولینی درتعین وآخرینی در ظهـــور
دررسالت ، درنبوت درامامت در وقار

تونبی بودی وآدم درمیان ماوتین
هیچ موجودی نبود چون توبدی اندرجوار

واحدیت برتوظاهرشدزاسرار احـــد
خانه توحید شدپاکیزەازخبث کفار

صاحب خلق عظیمت خواند ازاخلاق خویش
هم سلامت گفت باخیل ملائیک بیشمار

رحمت خودخواندمولایت بعالم بیگمان
منکرانت لاجرم مردودگشتند از غفار

هرکەازدنیا وعقبی نگذرددرعشق تو
کی شودتوحیدازو کامل بنزد کردگار

معنی جبرست همین واختیارست این چنین
هرکه ازتوروبتابد باطنش گردد حمار

دیرشد دورماندەام ازخاک بوست یاحبیب
جرم من راعفوه کن هرچندکه هستم شرمسار

خاک راهت آبروی من بود دروزحشر
آنچەخواهدگفت ؟ کەجان خودبتوکردەنثار

خاصه آن مردیکەپارادردهان مار داد
تابرای لحظهٔ درخواب خوش باشی قرار

آنکه صد خطوهٔ شیطان ازوپنهان شدی
نعره زدبرکافران گفتاروم درپیش یار

خاصەآن خاص خداکه جامع قرآن شد
ازدم تیغ عدویک مونجنبید از وقار

آنکه ازطفلی بدوش خودگرفت اورا یقین
درشب هجرت بجایش خفت برشوق نظار

همچنین اهلش زنسبت یانسب درهرزمان
جان بلب سربرکف آیندسوی جانان بیقرار

یک نظربنما بەسوی ماکبەبی رنگیم وزار
کشتی طوفانی مارارسان اندرکنار

دسنگرزلمـــی تـــــه

دا دستا دوینورنـــــگ د ی — داانجام دستا دننگ دی
چی تری سره پەتیبنته درومی — دا دستا توری شرنگ د ی
الحا دورتەسرتیټ کـــړ — دا دستا ایمانی جنگ د ی
دایمان دتوروبریښ د ی — پەلړزەتری روس فرنگ د ی

وارخطا نەشی زلمیه ،اخری وخت دی بیدارشه
دپخی میوی موسم دی،تولووتەیی تیارشه

دالوړغرونەسنگرونـــــه — ستا دعزم داستا نوْنـــه
ستا دجنگ دتاریخ پاڼـــی — ستا درزم گذارونـــــه
ستا دسرووینوسرەڅاڅکـــی — ځوانی هیلی امیدونـــه
ستا دشپوشپوشبگیرونـــه — ستا دزغم اوگړاوونـــه

د سوبمنو په تاریخ کې، د بري د باب حقدار شه
د پخې میوې موسم دی، ټولو وته یې تیار شه

بوډی میندې دې ژړاندي   هره خوا آهونه ساندي
ټولې وراړې کونډې خویندې   دې ویرژلې او زړه سواندي
په سلګوکې شکرباسي   پر دښمن چې بهرې کاندي
شپه او ورځ لاس په دعا دي   چې دې ټینګې او سه موانډي

د غازي شهید وارث شه، شابه مل دې کردګار شه
د پخې میوې موسم دی، ټولو وته یې تیار شه

په کمپونو په خیمو کې   د هجرت د ښتو میرو کې
د هیواد په سردروکې   په داهسکو دنګو غروکې
ټول خپلې ولسونه   ستا ستایل کړي مجلسوکې
د نړۍ مؤمنان واړه   ویاړي تا په زمزموکې

د اسلام د دین اعجازه، د "خالد" (رض) دتوري وارث شه
د پخې میوې موسم دی، ټولو وته یې تیار شه

د سنګراو جنګ سالاره   د همت او پت شعاره
د تکبیر نارو دې ویښ کړل   مستضعف له هر دیاره
د "احد"، "بدر" یادونه   شول راتاندستا له کرداره
د اعجاز او الهام لمره   د حیا د ژوند سهاره

د الحاد تیارې کړه لرې، روڼ فانوس د حق لار شه
د پخې میوې موسم دی، ټولو وته یې تیار شه

د تدبیر د بام مانع شه   د تقدیر په رازقانع شه
په هر حال کې شاکر اوسه   د حسد، کبر مانع شه
د قدیر رضا په تا ده   د "اعلون" غږ سامع شه
د ایمان ګانه زیور کړه   د نصرت فتحې طامع شه

د صابر صفت پیدا کړه، خپل هدف ته امیدوار شه
د پخې میوې موسم دی، ټولو وته یې تیار شه

اد شورا شوګرندي   ستا په زور په تیښته لاړل
د غوبل غوایان دې پاتې   باداران یې بیرته لاړل
مخکښان چې و د شور   هغه ځه شول چیرته لاړل
نوم یې ورک نښان یې ورک شو   ټول د حمکې زیرته لاړل

" یوبې" شه د دې عصر، ته فاتح د خپل دیار شه
د پخې میوې موسم دی، ټولو وته یې تیار شه

چا په شلوکې شل نه کړه   ستا لسم د سرکیدو دی
د خپلواک ژوندانه لمریا   ستا په ملک په راختو دی
ستا د وینو سیلاب یو وړ   سور سیلاب په ډوبیدو دی
کمونیزم په سالارو   نوریې نوم په ورک کیدو دی

د "لتهون" دنده کراره، په خپل عزم ټینګ کرار شه
د پخې میوې موسم دی، ټولو وته یې تیار شه

" لتهون "

افغانستان په تیره عیسوي میاشت کې

مهموپیښوته یوه کتنه :

په تیره میاشت کې دمهموپیښوپه لړکې یوه هم دظاهرشاه دبیرته رراوستلو مسئله وه .
د ستمبر په اومه نیټه امریکاخپل یواستازی روم ته لېږترڅودافغانستان دمسئلې په حل کې پخواني پاچاشریک کړي .
داچې امریکا دشخص ظاهرشاه سره څومره علاقه لري ،دا دبحث وړخبرده ، خوڅه چې روښانه اوواضح دی هغه دامریکا داقصدا ونیت دی چې په افغانستان کې دیواسلامي قوي حکومت دجوړیدومخه ونیسي .
دمجاهدینو دنظامي فتحې اوبریالیتوب په لړه کې دامریکا له خوا را پیدا شوې خنډونه زموږ ددې ادعاتاً ییدکوي، که مجاهدین دلویوښارونو په فتح کولوسره بریالي شي اوقدرت ترلاسه کړي دابه په افغانستان کې پرڅان متکي، آزاد اوقوي حکومت دجوړیدومقدمه وي اودا امرا مریکاته چې اوس یواځې داسلام سره په مقابله کې واقع دی دمنلووړنه دی .
استعماري قوتونه غواړي په افغانستان کې یوځې اوسیاسي حالات په تپه ودروي ترڅوهغه خلک چې دیولس کاله جهاد وجګړې په اوږدوکې رنځیدلي، قرباني یې ورکړي ، تردې حدپورې په تنګ کړي څوددوی په زعم ددریمګړی راتلوته راضي شي، دامریکا دااقدام هغه وخت وٴچې په پیښورکې دتنظیمونوترمینځ فضاخړه پړه وه ،دتخاردهیبې په تعقیب دجمعیت اسلامي، دحضرت دتنظیم اوځینې نوروله خوا دحزب اسلامي افغانستان پرضد دروغ او ناروا تبلیغات خپل اوج ته ورسیدلي ووحزب اسلامي دمشورتي شورا دفیصلونه سرغړونو په علت اودا نتخاباتوپه لړکې دخنډونوپیدا کولوا وبالاخره داِنتخاباتو ده سرنوشته ځندولو په خاطر خپل عضویت په حکومت کې معلق کړ . په دې جریان کې امریکا غوښتل پخواني پاچا دجهادي تنظیمونو دالټرناتیف په توګه رامینځته کړي .

په پېښور کې د جهادي تنظیمونو مشرانو د امریکا د دې اقدام په ځواب کې دول دول عکس العملونه وښودل. استاد سیاف د موءقت حکومت صدراعظم د امریکا دا کار وغندلو او د ظاهرشاه بیرته راتګ یې محال وبللو، مولوي محمدیونس خالص هم د ظاهرشاه راتګ رد کړ، پیرسید احمد ګیلاني د پخوا په شان د پخواني پاچا د بیرته راتګ نه دفاع وکړه، حضرت مجددي لکه څنګه چې قبلاً په دې امر کې متردد و، په څرګندونو کې یې هم د اتردید ښکاره کېدلو ځکه دې د نوي څوکې او پخواني یار ترمینځ په انتخاب کې سرګردان و، استاد رباني غبرګون ته نه کړ او د پخوا په شان یې موضع په تیاروکې پټه پاتې شوه.

خو د مجاهد افغان ملت غوځ دریځ او د ظاهرشاه د بیا راوستلو کلک غندل، د سپینې ماڼۍ ستراتیژیستان دې ته اړ کړل چې اعلان کړي: موږ ظاهرشاه د مقاومت جزء بولو او غواړو په پراخ بنسټ حکومت کې برخه واخلي، او بې نظیر بوټو وویل چې د ظاهرشاه د راوستو په هکله خبرې پیش له وخته دي، له دې خبرو مخکې ظاهرشاه داځل دومره په تمه شوی و چې د پاکستان حکومت نه یې د ویزې غوښتنه هم وکړه.

همدارنګه په دې میاشت کې د هند او ایران له خوا د افغانستان د مسئلې په هکله ډیر تحرکات ښکاري، روښانه ده چې هند د روسانو په اندازه په افغانستان کې د اسلامي حکومت نه ویره لري او ایران هم د هغه علتونو په بنسټ چې پخپله دوی ته روښانه دي په دې باب منفي موضع غوره کړې ده، او په همدې اساس د سټمبر په دولسمه د حزب اسلامي افغانستان سیاسي ریاست په پاکستان کې د ایران میشته سفیر ته یو احتجاجي لیک وسپارلو څو ایران په خپلو مطبوعاتو کې د حزب پرضد تبلیغات بند کړي.

او په دې میاشت کې د ایران او هند ترمینځ تګ راتګ او د افغانستان په هکله خبرې اترې په کافي اندازه زیاتې شوې دي.

همدارنګه د ناپیلو هیوادونو په غونډه کې چې په بلګراد کې جوړه شوې وه د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر د هند د هغه وړاندیز چې غوښتل یې د افغانستان مسئله د ناپیلو هیوادونو په کنفرانس کې طرح او حل شي، رد کړ، همدارنګه د کابل مزدور رژیم مشر بیا وویل چې د افغانستان د مسئلې د حل د پاره باید بین المللي کنفرانس جوړ شي.

او په پای کې د ټولو شخړو د حل د پاره دا فیصله وشوه چې پاکستان به د موءقت حکومت د په رسمیت پیژندلو نه صرف نظر کوي او د کابل رژیم به د بین المللي کنفرانس وړاندیز نه تیریږي، خو په نتیجه کې دا ویلی شو چې د اسلامي هیوادونو د کنفرانس په نسبت د ناپیلو هیوادونو په کنفرانس کې مجاهدین ډیر نا موءفق وو، او دا ټول په موءقت حکومت کې د را پیدا شویو ستونځو او د ځینو ناپوه اشخاصو د بیځایه نارو سورو او د حکومت نه د حزب اسلامي او د هغه د میرچې په حکومت کې یې د بهرنیو چارو وزیر د نده په غاړه درلوده د ګوښه کیدلو په وجه وو، ځکه حزب د حکومت د جوړوونکو او د هغه د قوي موءیدینو له ډلې څخه و.

ټولنکی او لیکونکی:
عوض الدین "صدیقی"

دشفق مجلې گرانو لوستونکو!

په لاندینو کرښو کی به تاسو د افغانستان په باب دهغو سیاسی جریاناتو نیته په نیته را ټول شوی مطالب ولولی، کوم چی دروان ـ عیسوی کال دستمبر په میاشت کی پیښ شوی :

ستمبر :

۱ ستمبر – ۱۰ وری: دملگرو ملتو عمومی منشي" کوئیار "دنا پیلو هیوادونو غونډی ته تر تگ دمخه خبریالانو ته وویل : مجاهدینو دافغانستان په باب دروسانو له خوا دیو نړیوال کنفرانس د دائریدلو وړاندیز ردکړی که څه هم چی زه ددی مخالف نه یم خو نشلم کولی ورته امیدوار واوسم همغه وویل : موږ ددی کوښښ کووچی دا مسئله دسیاسی لارې حل شي هغه زیاته کړه : زموږ نماینده ددواړو خوا وسره په تماس کی دی خو اوس موږ کوم فارمولا دوړاندی کولو لپاره نلرو .

۱ ستمبر – ۱۰ وری: دپاکستان دپاړچنار په سیمه کی دملیشو پر یوه دفتر باندی دکابل رژیم له خوا ویشتل شوی دوه سکړ توغندی ولگیدل چی دهغی له امله دملیشو دفتر ویجاړ او نور زیات مالی تاوان وراواوښت .

۱ ستمبر – ۱۰ وری: پاکستانی مقاماتو دهغه هیواد خبریالانو ته وویل : دنا پیلو هیوادونو غونډی ته به دپاکستان وفد د"نصرت بوټو" په مشری سفر وکړی او دپاکستانی وفد زیات فشار به پردی وی چی په افغانستان کی یو پراخ بنسټیزه حکومت جوړ شي او هم به دغونډی له گډو هیوادونو څخه دا غوښتنه وکړی چی ددا سی حالاتو په پیدا کولو کی دپاکستان سره مرسته وکړی چی مهاجرین په عزت سره خپل هیواد ته ستانه شي .

۱ ستمبر – ۱۰ وری: دعبوری حکومت لپاره دامریکا خاص استازی ټامسن به اسلام آباد کی دیوه مطبوعاتی کنفرانس په ترځ کی وویل : دکابل رژیم تر رانسکوریدو پوری به دمجاهدینو سره ملاتړ وکړی همده وویل : اوس هم په کابل کی دروسانو (۳۰۰) تنه دسلاکاری دنده پرمخ بیایی .

۲ ستمبر – ۱۱ وری :دپاکستان د جماعت اسلامی مشر قاضی حسین احمد دپاکستان جمهوررئیس ته تیلفون وکړ او دهغی په ترځ کی دنصرت ـ بوټو له دی حرکت څخه چی په کراچی کی دکابل رژیم دقونصل په ملمستیا کی گډون کړی اندیښنه څرگنده کړه او دا یی دیونیم ملیون شهیدانو وینو سره جفا وبلله .

۲ ستمبر – ۱۱ وری: دروسیې د بهرنیو چارو وزارت یوه ویندوی دعبوری حکومت لپاره دامریکا خاص استازی ټامسن دا خبره چی په کابل کی اوس هم دری سوه روسی سلاکاران موجود دي ردکړه .

۲ ستمبر – ۱۱ وری: دکابل ښار پرهوایی ډگر باندی دمجاهدینو (۲۴) لری ویشتونکی توغندی ولگیدل چی دهغی له امله ددښمن اته تنه ووژل شول .

۲ ستمبر – ۱۱ وری:دعبوری حکومت دبیا آبادولو وزیر "ربانی" دکورنیو چارو وزیر "خالص "او دفاع وزیر "محمدی " په پیښور کی دپاکستان دصوبه سرحد داعلی وزیر آفتاب ـ احمدشیرپاو سره دافغانستان مسئلی دروانو حالاتو په باب خبری وکړی .

۳ ستمبر – ۱۲ وری: دپاکستان دصوبه سرحد داعلی وزیر آفتاب احمدشیرپاو دعبوری حکومت دمشر "مجددی" او دحزب اسلامی امیر ورور"حکمتیار" سره دافغانستان دروانو حالاتو په باب خبری وکړی.

۳ ستمبر – ۱۲ وری: دکابل ښار پرهوایی ډگر او څینو نورو نظامی مرکزونو باندی دمجاهدینو لری ویشتونکی توغندی ولگیدل چی د هغوی له امله ددښمن (۲۰) تنه پوځیان ووژلی شول او زیات شمیر ټپیان شول .

۳ ستمبر – ۱۲ وری: دعبوری حکومت مشر "مجددی" دیوگسلاویا دهیواد دمشر چی دنا پیلو هیوادونو دغونډی مشری هم په غاړه لری په نوم یو لیک واستاوه او دهغه په ترځ کی یی غوښتنه وکړه چی په نا پیلو هیوادونو کی دافغانستان چوکی دمجاهدینو عبوری حکومت ته وسپاري .

۳ ستمبر – ۱۲ وری : باوری خبری سرچینو رپوټ ورکړ چی امریکائی مقاماتو په "سی،آی،ای" کی د افغانستان دچارو مسئول له خپلی دندی ایسته کړ .

۴ ستمبر – ۱۳ وری: په بلگراد کی دپاکستان دبهرنیو چارو وزیر "یعقوب خان"خبریالانو ته وویل پاکستانی وفد به دنجیب دوینا په وخت کی داحتجاج په ډول دغونډی له تالار څخه ووځي .

۴ ستمبر – ۱۳ وری: باخبرو خبری سرچینو رپوټ ورکړ چی عربی او پاکستانی مقاماتو دمجاهدینو ترمنځ درا پیدا شوی مخالفت دله مینځه وړلو په خاطر خپل فعالیتونه گړندی کړل رپوټ زیاته کړی په همدی غرض څو ورځې وړاندی د پاکستان یو لوړ رتبه هیئت په پاړچنار کی دورور "حکمتیار" سره ولیدل .

۴ ستمبر – ۱۳ وری: واشنگټن ـ

پوست ورځپانې دامریکا یې مقاماتو له خولې رپوټ ورکړ چې امریکا او پاکستان تصمیم نیولی تردې وروسته وسله پراحزابو بنده کړي او هغه په مستقل ډول قوماندانانو او دسیمو مشرانو ته ورکړي .

٥ ستمبر- ١٤ وړی: په بلګرادکې دکابل دمزدوررژیم مشردنا پیلو هیوادونو غونډې ته دوینا په ترڅ کې دې ټکي باندې یووار بیا ټینګار وکړچې دافغانستان مسئلې پاره دې یونړیوال کنفرانس راوبلل شی .

٥ ستمبر- ١٤ وړی: په بلګرادکې دپاکستان دبهرنیو چارو وزارت ویندوی خبریالانو ته وویل: پاکستان به دهغه ددې وړاندیز سخت مخالفت وکړي چې دنا پیلو هیوادونو په غونډه کې دې د افغانستان مسئلې دحل لپاره لاره ولټول شي ویندوی زیاته کړه . موږ ددې غوښتونکي یوچې په افغانستان کې یو پراخ بنسټیز حکومت جوړ شی .

٦ ستمبر- ١٥ وړی: باوري خبري سرچینو رپوټ ورکړچې دکابل دکوداکي رژیم هغه اکمالاتی قطار چې دهرات ولایت څخه حرکت کړی او غواړي کندهار ته راشي تر اوسه دلاري په اوږدو کې بندپاتې شوی اونشي کولای دمجاهدینو د عملیاتو له امله ځان کندهار ته راورسوي .

٧ ستمبر - ١٦ وړی: دامریکا یو خاص استازي روم ته سفروکړاوهلته یې دافغانستان پخواني پاچا (ظاهرشاه) سره ولیدل .

٨ ستمبر- ١٧ وړی: مجاهدینود کابل پرهوایي ډګراو ددښمن پر ځینونورونظامي مرکزونولري ویشتونکي توغندي وویشتل چې دهغې له امله ددښمن دالوتکو الوتنې وځنډول شول او زیات مالي اوځاني تاوان وروا وښت .

٩ ستمبر- ١٨ وړی: دلوګرولایت ټولو جهادي تنظیمونو او جبهاتو یوه مشترکه جهادي شورا دجهادي اموږدانسجام او یوه پرمختګ په خاطر جوړه کړه .

٩ ستمبر- ١٨ وړی: دافغانستان پخواني مخلوع شاه ظاهرشاه د یوې مرکې په ترڅ کې وویل: که پخوا مې دیوفرد په توګه دافغانستان ملت ته دخدمت غاړه اینبودله اوس که دوی وغواړي دعبوري حکومت په راس کې هم کولی شم دافغانستان ملت ته دخدمت مصدروګرځم .

١٠ ستمبر- ١٩ وړی: دجمعیت اسلامي دتعلیم او تربیې کمیټه دیوې غونډې په ترڅ کې دعبوري حکومت دتعلیم او تربیې دوزارت په چوکاټ کې مدغم اعلان شوه .

١١ستمبر- ٢٠ وړی: مجاهدینو دکابل پرهوایي ډګراو دکابل په ښارکې ددښمن پرپوځي مرکزونو لري ویشتونکي توغندي وروا وړول چې دهغې له امله یوه دمخکړو ملتو الوتکه او یوه هم دروسانو الوتکه تاواني شوې .

١١ ستمبر- ٢٠ وړی: دحرکت انقلاب اسلامي دیوې ډلې مشرمولوی نصرالله منصوردیوه مطبوعاتي کنفرانس په ترڅ کې وویل : عبوري حکومت ترڅو د اووه ګوندونوله چوکاټ څخه ونوځي اوپراخ نشي،نشي کولی دملت له ټولو جهادي قوتونو دملاتړ څخه برخمن شی .

١١ ستمبر- ٢٠ وړی: دعبوري حکومت صدراعظم دیوه مطبوعاتي کنفرانس په ترڅ کې وویل: موږ به دظاهرشاه په مقابل کې داسې وجنګیږو لکه څرنګه چې دکمونستانو اونجیب پرضدجنګیږو .

١٢ ستمبر- ٢١ وړی: دعبوري حکومت صدراعظم استادسیاف دیوه مطبوعاتي کنفرانس په ترڅ کې په بلګرادکې دنا پیلو هیوادونو دغونډې په باب چې دافغانستان موضوع یې په اجنداء کې ده وویل : دافغانستان مسئلې دراتلونکې په باب یوازې مجاهدین دفیصلې کولوحق لري هغه زیاته کړه : موږ به هیڅ چاته حق ورنکړوچې زموږ په کورنیو چاروکې مداخله وکړي .

١٢ ستمبر- ٢١ وړی: دحزب اسلامي سیاسي ریاست په پاکستان کې د ایران میشته سفیرته په دې خاطر یوا حتجاجي لیک وسپاره چې ایران په دې وروستیوکې په خپلو مطبوعاتو کې دحزب پرضد زیات ناوړه تبلیغات پیل کړي.په دې لیک کې دایران څخه غوښتنه شوی وه چې دافغانستان په چاروکې لاس وهنه بنده کړي .

١٣ ستمبر- ٢٢ وړی: دعبوري حکومت کابینې په یوه غونډه کې دجنوب لویدیځ ولایاتو او افغانستان دنوروسیمو ځینو علماو داوړاندیزچې دعبوري حکومت دفاتردې داخل دافغانستان ته نقل شي منظور کړ. په دې غونډه کې دجنوب لویدیځ ولایاتو (٢٥٠) ټنو علماء او مشرانو هم ګډون کړی و .

١٤ ستمبر- ٢٣ وړی: دپاکستان دخیبرایجنسۍ داپریدومشرملک نادرخان د"بی بی سی"راډیوسره په مرکه کې وویل : مجاهدین باید انتخابات وکړي او په دې ترڅ کې چې هرچاانتخابات وګټل قدرت باید هماغه ته وسپارل شی .

١٤ ستمبر- ٢٣ وړی: پیرسیداحمد ګیلاني دملي محاذ مشردخپل کار په دفتر کې دیوې مرکې په ترڅ کې وویل : دافغانستان خلک به

دکمونست حکومت دله مینځه وړلو او دخود مختاری دلاس ته راوړلو په خاطر دظاهرشاه راتګ ته بنه راغلاست ووایی .

۱۴ ستمبر – ۲۲ وړی: باخبرو خبری سرچینو رپوټ ورکړچی ظاهرشاه دپاکستان حکومت څخه دویزی لاس ته راوړلو غوښتنه کړی دا غوښتنه ترهغی وروسته وشوه چی ظاهرشاه دامریکا له خاص استازی سره په روم کی ولیدل .

۱۵ ستمبر – ۲۴ وړی: باوری خبری سرچینو رپوټ ورکړچی دحزب اسلامی اتلو مجاهدینو دسالنګ لاره بنده کړی او دبګرام پرهوایی ډګر یی دراندہ عملیات پیل کړی .

۱۵ ستمبر – ۲۴ وړی: دجمعیت اسلامی او نجات ملی صحی کمیټی دیوی غونډی په ترڅ کی دعبوری حکومت دصحت عامی په وزارت کی مدغم اعلان شوي .

۱۶ ستمبر – ۲۵ وړی: په امریکا کی دپاکستان سفیر ذوالفقار علی خان په امریکا کی دپاکستانی اوسیدونکو یوی غونډی ته په وینا کی وویل :
پاکستان دافغانستان مسئلی د سیاسی حل کوښښ کوی او په دی لټه کی دی چی په افغانستان کی دیوه پراخ بنسټیز حکومت جوړیدو ته زمینه مساعده شی .

۱۶ ستمبر – ۲۵ وړی: دملی نجات جبهی دتعلیم او تربیی کمیټه دیوی غونډی په ترڅ کی دعبوری حکومت دتعلیم او تربیی په وزارت کی مدغم اعلان شوه .

۱۷ ستمبر – ۲۶ وړی: مجاهدینو دکابل په ښارکی ددښمن پر پوځی مرکزونو او دروسیی پر سفارت – باندی لری ویشتونکی توغندی وروا ورول چی دهغوی له امله د سفارت یوه کوټه ویجاړه او نورزیات مالی تاوان وروا وښت .

۱۷ ستمبر – ۲۶ وړی: دعبوری حکومت ددفاع وزارت مرستیال جنرال یحیی "نوروز" دیوه مطبوعاتی کنفرانس په ترڅ کی چی د"افغانستان داسلامی آژانس" په دفتر کی جوړ شوی و ، وویل : ددی سره سره چی دروسیی قواو تر وتلو وروسته مجاهدینو ته وسله نه ده ورکړ شوی خو مجاهدینو خپل ایمانی رسالت په ښه توګه اجراء کړی .

۱۸ ستمبر – ۲۷ وړی: دعبوری – حکومت صدر اعظم استاد سیاف د یوی مرکی په ترڅ کی دظاهرشاه راتګ وغانده او ددی — په باب چی پاکستان بنا یی ظاهر شاه ته ویزه ورکړی وویل: که پاکستان داکار وکړی دا عمل به دافغانستان ملت سره دجنګ اعلان وي .

۱۸ ستمبر – ۲۷ وړی: نړیوالو خبری سرچینو رپوټ ورکړچی روسانو په دی وروستیو کی دکابل رژیم ته دوه ډوله نوی لری ویشتونکی توغندی ورکړی چی (۸۰۰) کیلومتره فاصله تر هدف لاندی نیولی شی .

۱۹ ستمبر – ۲۸ وړی: دپاکستان صدر اعظمی بی نظیر بوټو درویټر خبری آژانس سره په مرکه کی وویل فعلا" دظاهرشاه دراتګ په باب خبری یو عجولانه کاردی په اوسنیو شرایطو کی پاکستان دمجاهدینو دعبوری حکومت څخه خپل ملاتړ ته دوام ورکوي .

۱۹ ستمبر – ۲۸ وړی: دجمعیت علماء اسلام عمومی منشی دیوی مرکی په ترڅ کی وویل : په پاکستان کی دسیکولریزم پلویان غواړی په افغانستان کی دیو اسلامی حکومت دجوړیدو مخه ونیسی ترڅو پرځای یی هلته هم سیکولر – یستی حکومت جوړ شی .

۲۰ ستمبر – ۲۹ وړی: دکابل ښار پرهوایی ډګر باندی مجاهدینو لری ویشتونکی توغندی وروا ورول چی دهغوی له امله دڅو ساعتو لپاره په هوایی ډګر کی دالوتکو پروازونه بند وو .

۲۰ ستمبر – ۲۹ وړی: دعبوری حکومت مشرد "تایمز" ورځپانی سره په مرکه کی وویل: که چیرته ظاهرشاه دعبوری حکومت دجوړیدو څخه دمخه موږ سره په جهاد کی شریک شوی وی نو څه موږ یلی شو خو اوس ورته دقضیی په حل کی هیڅ نقش قایل نه یو .

۲۱ ستمبر – ۳۰ وړی: نړیوالو خبری سرچینو رپوټ ورکړچی دکابل ښار اوسیدونکی سږکال بیا د پروسږکال په ډول دسختی قحطی سره مخامخ شوي . رپوټ زیاتوي خوراکی موادنه پیداکیږی دضرورت وړ شیانو بیه لوړه شوې، او ټولی اکمالاتی لاری پرکابل بندې دي .

۲۱ ستمبر – ۳۰ وړی: حاجی دین محمد دحزب اسلامی مولوی خالص مرستیال او دعبوری حکومت دملی امنیت وزیر دیوی مرکی په ترڅ کی وویل : موږ دامریکا نه توقع نه لروچی هغه ددی هلی ځلی وکړی چی په افغانستان کی دخپلی خوښی حکومت جوړ کړی هغه زیاته کړه : موږ پوهیږو چی اوس امریکا خپلی ګټی په ظاهرشاه کی ګوری او هغه افغان ولس ته دمنلو وړ نه دي .

۲۲ ستمبر – ۳۱ وړی: دکابل ښار پرهوایی ډګر او نورو نظامی مرکز و – نو باندی مجاهدینو ۱۶ لری ویشتونکی توغندی وا ورول چی دهغی له امله ددښمن ۱۰ تنه ووژل او زیات شمیر ټپیان شول .

۲۲ ستمبر – ۳۱ وړی: باوري سر– چینو رپوټ ورکړچی دکابل رژیم د پوځ مورال ډیر ضعیف دی او هریو

ددي کوښښ کوي چې دمجاهدينو سره يوځاى شي رپوټ زياته کړه :که روسان ددي رژيم سره مرسته ونکړي ددوميا شتو په موده کي به نسکور شي .

٢٢ ستمبر- ٣١ وږى: دپاکستان دبهرنيوچارووزير په يوه وفد کي چې مشري يې دنصرت بوتو په غاړه وه دملګرو ملتو دعمومي اسامبلې په غونډه کي دګډون په خاطر امريکا ته سفر وکړ چې هلته په دامريکا يي او ځينونوروهيوادونوله مقاماتوسره دافغانستان مسئلې په اړه خبرې وکړې .

٢٣ ستمبر- ١ تله : دپاکستان دجماعت اسلامي مشرقاضي حسين احمد ديوى مرکى په ترځ کي وويل : غربي نړۍ او نوراستعماري هيوادونه غواړي په افغانستان کي ديو اسلامي رژيم دجوړيدو- مخنيوى وکړي .

٢٣ ستمبر- ١ تله: دهنددبهرنيو- چارووزارت سکرتر " اسين کى ،سنګه " ايران ته سفروکړ ترڅودځينوسيمه ايزو مسايلو سربيره دافغانستان مسئلې په اړه د ايرانى مقاماتو سره خبرى وکړى.

٢٤ ستمبر- ٢ تله : باخبروخبرى سرچينو رپوټ ورکړچې دکابل دګوډاګى رژيم الوتکو دنورستان په سيمه کى دخلکو پرهستوګن- ځايونو باندى بمبارى وکړه چې دهغي له امله (٣٧) ښځې ،ماشو- مان اونارينه شهيدان شول .

٢٤ ستمبر- ٢ تله : دحزب اسلامي مشرورورحکمتيار ديوى وينا په ترځ کى وويل : امريکا غواړي په افغانستان کى دروسانوځاى ونيسى هغه زياته کړه :ځينى هيوادونه دزورنالستانو په جامه کى جاسوسان افغانستان ته رالېږي چې هغوى له دى لارى د مجاهدينو په مينځ کى اختلاف پيدا کوي .

٢٤ ستمبر- ٢ تله :دهنددبهرنيو چارووزارت سکرترپه ايران کى دايرانى مقاماتوسره ترکتنى وروسته په ايران کى دميشته اته ګونى اتحاد مشرانوسره دافغانستان مسئلې په اړه خبرې وکړې .

٢٥ ستمبر- ٣ تله : دعبورى حکومت دتعليم اوتربيې وزير "فاروق اعظم " په اسلام آباد کى دروسيې بنديانو دخلاصيدو په خاطر راغلى وفد سره خبرى وکړى خو څه نتيجې ته سره ونه رسيدل .

٢٥ ستمبر- ٣ تله :دامريکا د "حفاظتي شورا "مشر "داکتر رجرډ هاس " په کچه ګړې کي ،مهاجرينو ته په وينا کي وويل:امريکا او پاکستان به ترهغې دمهاجرينوسره مرسته وکړي ترڅوچي دوى ته دبيا ستنيدو ښه شرايط مساعدشي .

٢٥ ستمبر- ٣ تله : دکابل دا هيواد دښځويوه ډله دملګرو ملتوترنظارت لاندى پيښور ته راورسيده او د - "رسالپور" په سيمه کى به دکمپونو ښځى دماينونودخنثى کولو په خاطرورو زى اودهغى څرنګوالي به ورته وښيي .

٢۶ ستمبر- ۴ تله :دهنددبهرنيو چارووزارت په تهران کى دايران جمهوررئيس رفسنجانى سره دسيمې اوافغانستان مسئلې په اړه خبرې وکړې اوهغه ته يې دراجيوګاندى ليک وسپاره .

٢۶ ستمبر- ۴ تله :دمولوى خالص داسلامي حزب دتعليم اوتربيې کميټه ديوى غونډې په ترځ کى د عبورى حکومت دتعليم اوتربيې وزارت په چوکاټ کى مدغم اعلان شوه .

٢٧ ستمبر- ٥ تله : داروپائي هيوادونو دګډى شورا مشر " رونالددوماس " چې دفرانسې دبهرنيوچارووزيرهم دى دملګرو- ملتودعمومي اسامبلې غونډې ته په وينا کي وويل : افغانان بايد په خپله خوښه يو پراخ بنسټيز حکومت جوړکړي ترڅودافغانستان غيرجانبدارانه حيثيت ټينګ شي.

٢٧ ستمبر- ٥ تله : دروسيې د بهرنيوچارووزيرشوردنادزى د ملګرو ملتودعمومي اسامبلې غونډې ته په وينا کي دافغانستان روان جنګ دهغوى داخلي جنګ وباله .

٢٧ ستمبر- ٥ تله : دکابل ښار پرهوايي ډګرا ونوروپوځي مراکزو باندى دمجاهدينو (١٧)توغندي ولګيدل چې دهغې له امله په هوايي ډګرکي دالوتکوپرواز و ځنډول شوا ودښمن ته زيانات اوان ورواوښت .

٢٨ ستمبر- ۶ تله : دمجاهدينو دعبورى حکومت خبرى آژانس اعلان وکړ چې مجاهدينو دکابل جلال آباد لاره بنده کړې او دسروبې په سيمه کى دښمن پوستې يې ترسختو عمليا تولاندى نيولي .

٢٨ ستمبر- ۶ تله :دنصرت بوټو ثقافتي سلاح کارى "انيسه عاليه امان " دکابل رژيم د(يووالى اودوستى) انجمن "په غوښتنه کابل ته سفروکړترڅوددى انجمن له خوا جوړشوى غونډې کى ګډون وکړي

٢٩ ستمبر- ٧ تله : دکابل ګوډاګى رژيم يوميګ (٢١)جيت الوتکه چې دبګرام څخه پرواز کړې وه اوپرجلال آباد يې بمبارى کوله دپيښور په هوايي ډګرکى راکوزه شوه اوپيلوټ يې "جلال الدين "دپاکستان حکومت څخه سياسى پناه وغوښته .

٢٩ ستمبر- ٧ تله : دکابل رژيم دبهرنيوچارووزير "وکيل" په نيويارک کى دملګرو ملتودعمومي اسامبلې غونډې ته په وينا کى وويل :امريکا دى دافغانستان

اسلامي فقه

د خپل تکامل په مختلفو دورو کې .

ليکونکی : شير علم " حقمل "

(بحواله) د دې مو اصلي مطلب ته رسوو لازم ښکاري چې فقه په مختصره توګه معرفي او وپېژندل شي :

فقه په لغت کې پوهې او د متکلم د خبرو د مطلب درک کولو ته وايي په قرآن کريم کې هم په دې معنى استعمال شوې لکه چې فرمايي " واحلل عقدة من لساني يفقهوا قولي " طه: ۲۸ آيت

زمانې زيات پوهه او په دين فقاهت لري کړي خو رما به فقول پاندې پوه شي

د اسلام په صدر کې او همدا رنګه په قرآن کريم کې د فقه اطلاق د پوهولو ټولو احکامو په پوهېدلو باندې که عملي وي او يا اعتقادي هم شوی دی . قرآن مجيد فرمايي "فلولا نفر من كل فرقة منهم طائفة ليتفقهوا في الدين ولينذروا قومهم اذا رجعوا اليهم" د توبې سورت ۱۲۲ آيت

وروسته په دوري له هر قوم د دوى په پوهولو کې ټولو خودسر زده کړې او د ارکړي چې ټول قوم کله چې دوى ته راوګرځي .

امام ابوحنيفه د فقه تعريف داسې کړی د فقه اکبر نوم ورکړی

فقه د فقهاوو له خوا په مختلفو عبارتو تعريف شوې ده او فقهاوو يې داسې تعريف کړی دی : " الفقه هو العلم بالاحكام الشرعية العملية من ادلتها التفصيلية " وقد هغې پوهې ته چې انسان يې د شرعي عملي احکامو له تفصيلي دلائلو څخه د همدغو احکامو په مورد کې حاصلوي .

اسلامي فقه داسې عام او درزوند پوهولو رخو ته شامل نظام دی چې له ټولو هغو د انسان روابط او علايق له لوی خدای (ج) سره تنظيموي او له نورو دسولی او جنګ په حالت کې د فرد او ټولنې سره او د ټولنو او دولتو اړيکې له نورو ټولنو او دولتو سره تنظيموي .

او ورا صل مطلب ته راګرځو او د فقه د تشريع څرنګوالی د هغې په مختلفو مرحلو کې مطالعه کوو :

په اسلامي فقه باندې درې مهمې دورې تېرې شوي دي:

۱ ـ د رسول الله صلى الله عليه وسلم عصر چې د هغه صلى الله عليه وسلم په وفات سره پای ته رسېږي . (۱۱هـ ۶۳۲ م)

۲ ـ د اجتهاد دوره چې تقريباً د څلورمې هجري پېړۍ په نيمايي کې پای ته رسېږي .

۳ ـ د تقليد دوره چې د دوهمې دورې له آخره شروع او پای يې له خدايه (ج) پرته بل چا ته نده معلوم چې په لاندې توګه يې تفصيل وړاندې کېږي .

۱ـ د نبي کريم زمانه :

دا دوره تقريباً دروېشت کاله وه او دا هغه زمانه وه چې په هغه کې رسول الله صلى الله عليه وسلم له بعثت څخه وروسته ژوند کړی . کېدای شي چې دا دوره له تشريعي لحاظ په دوو برخو تقسيم شي .

۱ ـ مکي له هجرت نه چې تقريباً دیارلس کاله يې دوام وکړ (مکي دوره) .

۲ ـ وروسته له هجرت نه چې تقريباً څه باندې لس کاله کېږي (مدني دوره) .

د رسول الله دعوت او تشريع په مکه معظمه کې عبارت وه د عقيدې له اصلاح کولو د نفسونو له پاکولو د تربيې او دعوت په د خلکو له ځلالو لو څخه .

قرآن عظيم الشان په مکي دوره کې د ژوند د تنظيمولو او سرا سرولو مربوط احکام ډېر کم او نادر بيان کړي زيات توجه يې د عقيدې او نفسو اصلاح کولو ته کړېده .

له دريا لسو کالو وروسته رسول الله (ص) ته اجازه وشوه

مسئلې د آوارولو او کابل کې د خپل سفارت د بيا پرانستلو په خاطر يو خاص استازی کابل ته ولېږي تر څو د کابل

رژيم سره خبرې وکړي ځکه حالات او س ډېر فرق کړی.

۲۹ ستمبر ـ ۷ تله :په پاکستان کې د امريکا سفير رابرټ اوکلي په اسلام آباد کې د "امريکن سنټر" په کورس کې يوې غونډې ته په وينا کې وويل امريکا نه غواړي چې افغانستان نه د بيا دګراياتو

او نه د شاه پرستانو حمايت کوي او نه دا نيت لري چې پر افغانانو د خپلې خوښې حکومت ومني، ځکه د افغانستان تاريخ هر کتونکي ته دا ثابته ده چې پردی ولس هيڅ څوک خپله خوښه نشي ورتپلی.

۳۰ ستمبر ـ ۸ تله :د پاکستان د بهرنيو چارو وزارت يوه وياندوی د " انيسه عاليه امان " سفر کابل ته غير رسمي وباله او زياته يې

کړه چې هغه د نصرت بوټو په دفتر کې څه رسمي دنده نه لري او نه په دې سفر کې ورسره نصرت بوټو توافق کړی .

۳۰ ستمبر ـ ۸ تله :د جلال آباد پر هوايي ډګر کې د دښمن يوې ډېرو هغه وخت او ورا خيست چې د دښمن يوه جيټ الوتکه چې د مجاهدينو لخوا ويشتل شوې وه د هوايي ډګر پر يوې ډيپو را ولويده .

چې مدینې منورې ته هجرت وکړي په دې وخت کې اسلامي تشریع خپله توجه دخلکو د روزمره فردي او ټولنیز ژوند شمولو ته راوګرځوله او د قرآن کریم زیاته برخه د روزمره ژوند په مربوطو احکامو کې را نازلیدله، په تفصیل سره یې د عباداتو، معاملاتو، جرمونو، میراث، وصیت، نکاح، طلاق، ایمانونو (قسمونو) قضاء او داسې نورو احکام بیان کړل.

فقهي احکام د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وخت کې یوازې له قرآن کریم او د ده صلی الله علیه وسلم له حدیثو څخه اخیستل کیدل او د خلکو د احتیاج او حالاتو سره سم په تدریج سره نازلیدل.

تشریع په دې دوره کې د آسانتیا او په مسلمانانو باندې د نه سختیا پالیسي او رنګ درلود.

۲ – د اجتهاد دوره:

اجتهاد په لغت کې کوښښ کولو ته وایي او په اصطلاح کې د تشریع له اصلي مصادرو (کتاب الله او سنت رسول الله) د شرعي کلام په استنباط کې زیار ایستلو ته وایي.

دا دوره د رسول الله له رحلت نه شروع او د څلورمې پیړۍ تر نیمایي پورې یې دوام کړی، کیدلای شي چې دا دوره په دریو برخو باندې وویشل شي.

۱ – د راشدو خلفاؤ زمانه:

۲ – د کشرانو اصحابو او تابعینو زمانه: (د اموریانو دوره)

۳ – د عباسیانو زمانه (د څلورمې هجري پیړۍ تر نیمایي پورې دوام لري).

۱ – د راشدو خلفاؤ زمانه:

د رسول الله له وفات نه وروسته راشدو خلفاؤ او لویو اصحابو رضی الله عنهم په دنیوي او دیني امورو کې د مسلمانانو د لارښوونې د روند پیټی په اوږو واخیست، په دې وخت کې د اسلامي دولت ساحه پراخه او نوې حوادث چې پخوا یې سابقه نه درلوده هم زیات او دوی مجبور و چې دې نویو مسائلو ته شرعي احکام پیدا کړي زیاربه یې ویسته چې حکم یې په کتاب الله یا سنت کې پیدا کړي که چیرې مطلب به یې هلته پیدا نکړ نو د شرعي قواعدو په بنا کې به یې له رایې څخه کار اخیست تر څو د هغې مسائلي حکم پیدا کړي.

په دې وخت کې له کتاب الله او سنت څخه پرته بل هر دلیل او وسیله چې د شرعي حکم د پیدا کولو لپاره په کار لویدله رایې بلل کیده چې البته په وروسته زمانو کې دا دلایل په مختلفو بیلو بیلو نومونو یاد شول لکه اجماع، قیاس، مصالح مرسله، د ذمې اصلي براءت، شرالذرایع استحسان، عرف او داسې نور.

د فقهي مصدر په دې وخت کې کتاب الله او سنت رسول الله او جمعي او فردي رایه (اجتهاد) وه.

کله به چې حضرت ابوبکر صدیق ته موضوع راغله نو او ل به یې د هغې حکم په کتاب الله کې لټولو که پیدا به یې کړ نو د هغه مطابق به یې فیصله کوله او که په کتاب الله کې به یې پیدا نکړ نو د رسول الله سنت ته به یې رجوع کوله حکم به یې هلته کتلو، که پیدا به یې کړ نو د هغه مطابق به یې فیصله کوله او که نه یې لولو خلکو څخه به یې پوښتنه کوله چې آیا رسول الله (ص) په دې مورد کې څه حکم کړی؟ ډیر ځله به څوک پیدا شول چې ویل به یې هو! په دې مورد کې رسول الله داسې حکم کړی. نو د هغه مطابق به یې حکم کاوه، او که په کتاب الله او سنت رسول الله کې به یې د مسائلي حکم پیدا نکړ نو د امت پوهان به یې راوغوښتل مشوره به یې تری – واخیستله چې په کوم شي به یې اتفاق راغی په هغه به یې حکم کاوه.

حضرت عمر فاروق رضی الله عنه هم دا کار کاوه، کله به یې چې د مسائلي حکم په کتاب الله او سنت رسول الله کې پیدا نکړ نو پوښتنه به یې کوله چې آیا ابوبکر په دې موضوع کې څه قضاوت کړی؟ که د ابوبکر قضاء به یې پیدا کړه نو د هغه مطابق به یې حکم کاوه او که پیدا به یې نکړه نو بیا به یې راټول کړل مشوره به یې تری واخیسته چې په کوم شي به یې اتفاق راغی د هغه مطابق به یې فیصله کوله.

۲ – د اموریانو زمانه (د اولې پیړۍ تر نیمایي نه د دوهمې

فقهي کتابونه په اول کې په آسانه او تفصیلي توګه لیکل شوي وو، خو چې کله د زده کونکو کمزورتیا احساس شوه، نو علماؤ اختصار ته ملاوتړله، کله کله به دا اختصار د درجې ته ورسید چې د مطالبو فهم به تری مشکل شو، چې بیا به نورو علماؤ د مختصر کړای شویو کتابونو شرح کوله، بیا نورعلما زا پورته شول د شروحو خفي ځایونه یې توضیح کړل، وروسته یې په شروحو مکملي شرحې ولیکلې نو څکه په فقه کې متون، شروح او تبلیغات را مینځته شول.

پیړۍ تر اوایلو پورې) دا زمانه د تشریع له پلوه د راشدو خلفاؤ زمانې ته ور ته وه پردې توګه چې اول به کتاب الله بیا به د رسول الله (ص) حدیث بیا به اجماع او رایې ته رجوع کیده، مګر د مشورې په مبداء د وخت د خطرناکو پیښو له کبله چې په فقه یې ښکاره منفي اثر درلود سم عمل نه کیده اختلاف زیات شو، شورې په حقیقي معنا سره نه وه موجوده، اجماع مشکله شوه مګر دا چې تصادفي به پیښه شوه.

د دې زمانې مهمې منفي پیښې دا وې:

۱ – د خلافت په سبب چې څوک یې مستحق دی ملت په دریو برخو وویشل شي خوارج، شیعه، او اهل السنه والجماعه، دا سیاسي تفرق د علمي ګډوډیو او فقهي اختلافاتو عمده سبب وګرځیده.

۲– اموي خلفاؤ د خپلو سلفو لارپریښوده نارواسیاست یې مخه کړه داسې اموریې له خپله ځانه ایجاد کړل چې په اسلام کې یې جواز نه درلود. دې کار فقهاء تری بیزاره کړل. خوا ته نه ورتلل نو به یې زیار ایستلو چې ځانونه لرې تری وساتي نو په داسې حال کې طبعاً شورې ته پخواني حالت نه پاته کیږي.

۳ – په دې دوره کې فقهاء په مختلفو ښارو کې تیت شول د حضرت عمر رضی الله عنه د دوران عوندې نو چې د مشورې په منظور به یې ټول په مدینه منوره کې سا تل پوهانو (اهل

الحل والعقد) ته به یی بی ضرورته اجازه نه ورکوله چی له مدینی منوری ځخه ووزی .

۴ – په دی دوره کی دپخوا په خلاف هرچا اجازه درلوده چی د پیغمبر ځخه دحدیثو روایت وکړی دی کار که له یوه لوری گټه درلوده او حدیث هرچا ته رسیده له بل لوری یی اسلام دښمنه عناصروته زمینه مساعده کړه چی د اسلام دتخریب په خاطریاد خپلی ادعاء داثبات په غرض له خپله ځانه ځه جوړ او پیغمبرته یی منسوب کړی، ددی په نتیجه کی په فقهاو لازمه شوه مخکی تردی چی له حدیث ځخه احکام استنباط کړی یووار داجوته کړی چی ایا داحدیث دی او که نه ؟

البته دراشدوخلفاو په وخت کی فقهاو دا مکلفیت نه درلود.

۵ – په دی دوره کی فقهاء دفقهی مسلک په لحاظ دووبرخوته وویشل شول اهل الرای او اهل الحدیث. اهل الراءی هغه فقهاو چی عقیده یی لرله چی احکام په علتونو معلل دی . د مشخصو اهدافو دتر لاسه کولو په خاطر وضع شوی، دوی به د احکامو دعلتو پیروی کوله راء په او قیاس یی زیات استعمالول چیرته به یی چی دحکم علت وکوت حکم به یی هم ثابت باله خو په دی شرط چی به موضوع کی به بل ثابت او صحیح نص موجود نه و .

اهل الحدیث هغه فقهاء و چی ترځو به یی په قضیه کی نص پیدا نکړ حکم به یی نه کاو ،داهل لرای مرکزکوفه او داهل الحدیثو مرکز حجاز و .

۳ – دعباسیانو زمانه (ددوهم هجری پیړی له اوایلو ځخه دځلورمی پیړی ترنیمایی پوری) دا دوره دامویانو له ختمیدو ځخه شروع او دځلورمی پیړی ترنیمایی پوری چی دعباسیانو دولت کمزوری او په وړووړو دولتو چی په خلافت پوری په نوم تړلی و تقسیم شی دوام کوی .

په دی دوره کی فقهی دنورو علومو په څیر زیات ه ترقی وکړه مستقل علم تری جوړ شو، دا دوره دمسلمانانو لپاره دهر اړخیزی ترقی دوره وه چی طلایی دوره بلل کیږی ،په دی زمانه کی مهم تشریعی مرکزونه عبارت له بغداده ،کوفی، بصری، مدینی، مکی ، مصر ، دمشق او مروی ځخه و .

دپخوا په شان استنباط فقط په پیښوشوو موضوعاتو پوری منحصر پاته نه شول بلکه فقهاو به مسایل فرضول دهغو حکم به یی له نصوصو ځخه استنباط کولو .

ددی مشبتو تحولاتو علت دا و چی دوخت حاکمانو فقهی او فقهاو ته زیاته پاملرنه کوله هرچا خپل نظر په آزاد دول ښکاره کولای شوی، دفقهاو ترمنځ زیاتی مناظری کیدی دنورو ملتو دعلومو ترجمی او دحدیثو تدوینولو دفقهاو په عقل او طرزفکر باندی زیات مثبت تاء ثیروکړ .

د تقلید دوره :

دا دوره دځلورمی هجری پیړی له نیمایی ځخه شروع کیږی په دی دوره کی فقهی درکو دحالت اختیار کړځکه چی :

۱ – دوختسیاسی نیمگړتیاوو په فقه او نورو علومو مستقیم منفی تاء ثیر درلود هغه آزادی چی پخوا فقهاو درلوده په دی دوره کی یی نه لرله .

۲ – خلک په آسوده ژوند اخته شول، دومره زحمت یی په ځان نه تیراوچی له کتاب الله او سنت ځخه دحکم استنباط وکړی دپخوانیو فقهاو نظریاتوته به یی رجوع کوله او له تیرو استنباط شوو احکامو ځخه به یی استفاده کوله او خپل مشکل به یی پری حل کاوه .

په دی دوره کی دا شعار ونه چی وایی: " کل احدیوء خذمن قوله وتیر ت الارسول الله " له پیغمبره پرته نورد هرچا له خبرو ځخه ځه اخیستل کیږی (عملی کیږی) او ځه پریښول کیږی " ماجاء ناعن الصحابه فعلی الرای والعین وماجاء ناعن التابعین فهم رجال ونحن رجال "هغه ځه چی له اصحابو رضی الله عنهم ځخه موږته راغلی په سراوسترگو یی منو او کوم شیء چی موږته له تابعینو ځخه راغلی نودوی هم سړی و، او موږهم سړی یو." واذا طلح الحدیث فهوالمذهب واضربوا غیزه عرض الحایط " کله چی صحیح حدیث پیدا شی

نو هغه مذهب دی نوری خبری ددیوال په مخ وولی، په نورو بدل شول : داجتها ددروازه وتړل شوه دفقهاو قول ته دشرعی نص په سترگه وکتل شول ،حتی ځینی فقهاو لادا هم وویل چی که دنص او فقیه دقول ترمنځ ټکر راغی نو دفقیه قول ته به ترجیح ورکول کیږی .

خو بیا هم ددی دوری فقهاو دفقه دخدمت لپاره ځه ناځه مفیدکار ونه کړی چی خلاصه یی په لاندی توگه وړاندی کیږی .

۱ – دفقهی احکامو تعلیل :

ددی دوری فقهاو هغه احکام چی له پخوانیو ځخه په میراث ورته پاته و ترغور لاندی ونیول هم رنگه او متشابه احکام یی سره یوځای او منظم کړل، دهغو علتونه یی پیدا کړل دی کار دنورو نوو مساء لو په حل کی زیات کومک ورسره کاو دغه علت به یی چی په هره مساء له کی کوت په هغه بله مساء له به یی قیاسوله چی دهغی حکم به پخوانیو علماو نه وولی و .

۲ – دفقهی احکامو له مجموعی ځخه دکلی قواعدو راویستل مثلا" ددی دوری فقهاو چی کله ولیدل چی ابوحنیفه به هرشی کی چی ځمکه یی شنه کوی که لږوی او که ډیر ددی آیت په حکم" واتوحقه یوم حصاده" زکات فرض بولی او په دی حدیث چی فرمایی :

" لیس فیما دون خسه اوسق صدقه" عمل نه کوی نو ددی حکم او دده له امثالو ځخه فقهاء دی نتیجی ته ورسید ل چی دکتاب الله عام په واحد خبرباندی نه تخصیص کیږی ځکه دعام دلالت په خپل ټول مفهوم باندی قطعی دی لکه دخاص دلالت چی پخپل ټول مفهوم باندی قطعی ده نو قطعی په ظن باندی نه تخصیص کیږی .

داحکامو تعلیل او دکلی قواعدو ویستلو داصول فقه د علم په رشدا و پراختیا باندی زیات تاء ثیر درلود

۳ – په یو مذهب او یا مختلفو مذهبو کی دمختلفو آراو ترمنځ ترجیح ددی دوری دمهمو خصوصیاتو ځخه شمیرل کیږی . دی کار دفقهی په بسط او تفصیل کی لوی رول لوباو . او فقه دمسلمانانو لپاره لوی او معزز میراث وگرځیده .

خوله ۶۵۶ هجری قمری کال ځخه وروسته چی بغداد د تاتاریانو په لاس کی ولید فقهاو له متن لیکلو ،شرحی کولو او اختصارولو نه پرته بل کار نه ده کړی،په دی دوره کی نه ترجیح وه او نه تخریج او استنباط بلکه دفقهاو عمل د کتابوله تالیف ، شرح کولو ،اختصارولو او تعلیق لیکلو ځخه پرته بل شی نوو .

کتابونه په اول کی په آسانه او تفصیلی توگه لیکل شوی و

خوچې کله د زده کوونکو کمزورتیا احساس شوه نو علماوو اختصار ته ملا وتړله، کله کله به دا اختصار دې درجې ته ورسیده چې د مطالبو فهم به تري مشکل شو چې بیا به نورو علماوو د مختصر کړی شوو کتابو شرح کوله، بیا نور علما را پورته شول د شروحو خفیي ځایونه یې توضیح کړل او روسته یې په شروحو مکملې شرحې ولیکلې نو ځکه په فقه کې متون، شروح او تبلیغات را منځته شول .

اسلامي فقه چې دخپل تکوین په موردکې یې پورته مختلف مراحل تیر کړي د مسلمانانو لپاره د لوی او گټور میراث په توگه پاته شوی ده تقریباً دا تو سوو کالو په موده کې له هره حیثه دهغه وخت له ټولو نظامونو مخکې وه خو متاء سفانه وروسته له هغه نه تنها دا چې چاکا رورته ونکړ بلکه ددې فقهې د رشد او لوئیدو په مخکې زیات خنډونه ایجا د شول .

حکومتونو دخپل قدرت له مسائلو پرته د فقهې خواته نوره هیڅ توجه ونکوله او نه یې د ژوند په مختلفو برخو کې سمه استفاده تري کوله .

علماوو هم دلیکل شویو معینو کتابو په مطالعه کولو قناعت وکړ او قلا" د فقهې دلیکو او صیاغت د تهذیب کار یې هم پریښود .

ددنیا متحدینو هیوادو د ژوند قوانین په ډیر وساده او سلیسو عبارا تو ولیکل او نوریې هم ورځ په ورځ آسانه کوی خو مسلمانان په دې برخه کې په ټپه ودریدل نه تنها دا چې خپلې فقهې ته یې کار ونکړ بلکه په ډیرو ځایو کې یې دحکومتونو او افرادو په سطحه د فقهې مخالفت ته ملا وتړله د پردیو له تاء ثیر لاندې را غلل زیا تو ته یې خپله فقه (د ژوند قانون) سپکه او کمزوری ښکاره شوه، خپله ترقي او عزت یې په پردې ثقافت او کلچر کې وبلله .

واقعیت دادی چې که اسلامي فقه داوسنیو وضعي قوانینو په شکل ترتیب او تنظیم شي دمسلمانانو مشکل به له بل هر قانون او نظام څخه ښه حل کړي، دحکومتونو او ملتونو ترمنځ به خواخوږي، نیږدیوالي، متقابل باور او اعتماد پیدا شي، او سنی دیوبل نه دبیزاري او عقدوو ضع به په متقابل باور بدله شي .

په وروستیو دوو پیړیو کې د نړۍ په گوټ گوټ کې ویښ او با درده مسلمانان دې نقطې ته متوجه شوي چې دا کثرو اسلامي هیوادو دحکومتونو پردې لاراننتخاب، بې ځایه تقلیدیي شروع او خپل فرهنگ او ثقافت یې پرې ایښی دی، دوی ــ تشخیص کړي چې دعلاج یوا ځینی لار خپل فرهنگ، دین ، او مذهب ته را گرځیدل دي، په دې موردکې زیا تې هلې ځلې شوی او کیږي .

دکارونو انجام او نتایج دخدای (ج) پرلاس کې دي خو زیات امید شته چې پوه مسلمانان به دخپلو ملتونو غوښتنې په نظر کې ونیسي او د اسلامي فقه د تطبیق لپاره به پوره زمینه مساعده کړي خپل ولسونه به د اسلامي فقه په دنیا کې رهبري کـړي .

ومن الله التوفیـق

ددین احیا او تجدید

پـه سریـــی :

ژباړن : مولوی محمدنعیم "تائب"

داسلام او جاهلیت ترمنځ فکري او تاریخي جگـــړه :

تـعمیــری کــار :

په تعمیری اړخ کی دشاه ولی الله رحمت الله علیه لمړنی مهم کار دا وچی په فقه کی داسی یوه ډیره معتدله لاره (مسلک) وړاندی کوی چی په هغه کی دیوه مذهب پلوی او په بل مذهب باندی تنقیدنه لیدل کیږی، دیوه محقق په څیریی د ټولو فقهی مذاهبو اصول او داستنباط لاری مطالعه کړی او بالکل آزاد نظر یی خپل کړی ده .

دکوم مذهب تائیدکه یی کړی لدی کبله یی کړی چی په هغه مسئله کی یی دهغه مذهب په تاییددلیل پیدا کړی، نه ددی له کبله چی دهغه مذهب دوکالت مسئولیت یی په غاړه اخیستی، په کومه مسئله کی چی یی دکوم مذهب نه اختلاف کړی لدی کبله یی کړی چی دلیل یی دهغه مخالف پیدا کړی نه لدی وجې نه چی لدی مذهب سره څه مخالفت او دښمنی لری ، لدی کبله کله هغه حنفي په نظر راځی، کله شافعی ، کله مالکی او کله حنبلی .

شاه ولی الله رحمت الله علیه دهغو خلکو مخالفت هم کړی چی دیوه مذهب دتقلیدحلقه یی په غاړه کړی او لوړه یی کړی چی په ټولو مسائلو کی به دهغه پیروی او متابعت کوم همدا رنگه یی دهغو خلکو سره هم سخت مخالفت کړی چی دمذاهبو امامانو نه یی دکوم یوه سره دمخالفت ژمنه کړی ده ددی دوا ړو لارو ترمنځ منځ په یوه داسی معتدله لاره روان وه چی په هغې کی دتعصب نه خالی هر حق غوښتونکی ته ډاډ او اطمینان ورپه برخه کیدای شی چی انصاف نومی رساله یی ددی لاری (مسلک) هندا ره ده ، همدا رنگ یی په مصفی او نورکتابونو کی لیدل کیږی په تفهیمات کی یو ځای فرمایی:

" زما په زړه کې يو فکر اچول شوی چې تفصيل يې دا دی چې :

دابوحنيفه او شافعي دهمهاله مذهبونه په امت کې ډير مشهوردي، تر څو لوزيات پيروان دهمدی دوو مذهبونو پيدا کيږي او تصنيفونه هم ددی دوو مذهبونو زيات دي، فقها، محدثين، - مفسرين، متکلمين، او صوفيه زيات دشافعي (۹۰) دمذهب پيرودی او حکومتونه او ملت زياتره دحنفي مذهب تابع دی، نن چې کوم کار دملا الا- علی دعلوموسره مطابقت لري هغه دا ده چې دا دواړه مذهبونه ديوه مذهب په څيرو گرزول شي ، ددی دواړو سائل درسول الله صلی الله عليه وسلم داحاديثو دمجموعوسره په مقابلوی رول وکتل شي څه چې دهغو موافق وپه خپل حال باته کړای شي او دڅه شي چې څه اصل نشي پيدا هغه ساقط کړای شي، بيا چې څه دنقدکولونه اهل حديث او اهل تخريج دواړو لاره يوځای کړای شي، همدا ډول په حجت کې چې يې په اووم مبحث کې "دفصل ومما يناسب هذا لمقام التنبيه علی مسائل ضلت فی بواديها الافهام" ترعنوان لاندی کوم بحث کړی هغه هم دليدووړ دی.

